AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۱/۰۷/۱۰

# ظاهرشاهي اسلام

بحث پر دي و، چې:

ـ دا ټولي ويني د اسلام لپاره بهول کيږي، خو پوښتنه دا ده، چې کوم ډول اسلام؟

جمعيتي، حزبي، طالباني، القاعده يي، داعشي، خلافتي، امارتي، اصلاحي، TTPيي، جيش محمدي، سپاه صحابه يي ، دولس امامي، څلور امامي، اسماعيلي، که کوم بل ډول؟

يوه وويل: اسلام يو اسلام دی، توپير په کې نشته. سرچينه يي قرآن عظيم الشان، حديث او سيرت يا هم اجتهاد و اجماع و قياس دي.

بل وويل: که توپير نشته، نو دا ډلي ولي يو بل سره وژني او تر کفارو وړاندي يي له يو بل څخه په لکونو ووژل؟

لومړي وويل:

په امت کي اختلاف د امت په خير ده.

دويم وويل:

هغه اختلاف يي په فقه، کلام، اجتهاد او احکامو کي ښوولی، چي سوله ييز علمي بحثونه په کي وشي او په پايله کي يي د اسلامي مسايلو او احکامو جزيات واضح شي، نه د استخباراتي نالوستيو او جاهلو وسله والو ترمنځ د جګړو په ډګرونو کي وحشيانه اختلاف، چي د اسلامي امت د تباهی او قتل عام لامل شي.

اصلي پوښتنه دا ده، چي عام مسلمانان د دي خونړيو ډلو کوم موډل ومني؟

په دي منځ کي يوه مستخدم سپين ږيري، چي د بحث غږيو ته يي برابر کړی چاې ويشه، ناڅاپه وويل:

تر ټولو ښه اسلام ظاهرشاهي اسلام و. خلکو خپل عبادت کاوه او هيچا پر چا کار نه درلوده...

نا څاپه بحث چوپ شو، ټولو يو بل ته وکتل. ځکه هيچا د ظاهرشاهي اسلام اصطلاح لا نه وه اوريدلي.

وکړئ، پوښتني ښي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ